# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



## محمد علم بڅرکی

۱۹۲۱ - ۲۰۰۳م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

لیکوال :غرزی خواخوږی

## اروابښاد محمد علم بڅرکی پیاوړې ملي، ټولنیز،او فرهنګي شخصیت

اروابښاد محمد علم بڅرکی زموږ دهیوادنامتواو پیاوړې ملي، سیاسي، ټولنیز، ادبي او فرهنګي شخصیت زموږ ګران هیواد افغانستان دسترو ننګیالیو، میړنیو، توریالیو او اتلانوټاټوبې دی . همدوی وو، چې د تاریخ په اوږدو کې یې د بلوسګرو او دښنو ګوزارونو پر وړاندې خپلې سینې ډال کړې ، اودخپل هیواد د ژغورنې، ملي ، سیاسي خپلواکی، آزادی، سولې، سوکالې، د ملي او ټولنیزو ارزښتونو، دودونو، جالونو، او نورو پیژندنښو د دفاع او خوندیینې لپاره یې په ټوله رښتینولی، ټینګ هوډ، او میړانه مبارزه کړې ده، هیواد والو ته یې د ملي یوموټیوالي او هیواد پالنې لوستونه ورکړي دي . تر څنګه یې بیا د کورنیو زور واکانو پر وړاندې د ولسواکې، ملي او سیاسي حقوقو د لاسته راوړنې لپاره قلمي، خیاباني او پارلماني هلې ځلې کړې دي . له دې لامله زموږ رښتیاپال او حقپال هیوادوال د دغو ټولو ملي او تاریخي ستو پر سر ښندنو ملي، سیاسي او فرهنګي کارنامو ویاړي، نمانځغونډې وړباندې جوړوي او یادونه یې ژوندي ساتي . یو له دغو تلپاتې او تلژوندیوسیاسي ، فرهنګي او ملي ستو څخه اروابښاد (محمد علم بڅرکی) وو . چې د ژوند زیاته برخه یې د یوه سیاست پوه، ټولنیز پوه، سیاسي جنګیال، فرهنګیال او وتلي لیکوال او شاعر په توګه د خپل هیواد او هیوادوالو د سر لوړی او سوکالی لپاره ځانګړې کړې او په همدې پاکه مینه یې ډیرې توکیز او مانیز زیانونه او تاوانونه زغملي او ګاللي دي .

ژوند لیک :

اروابښاد((محمدعلم بڅرکی)) د حاجي محمد انور خان زوی دی . په یوه ، ملي، سیاسي، ادبي او فرهنګي کورنۍ کې پر (۱۹۲۱) زیږدیزکال دسویلي پښتونخوا په ګلستان کلي کي زیږیدلی دی . د ده پلرونه او نیکونه د هغې سیمې مخور مشران اوخانان ول . دی د حاجي سعادت خان لمسی، دیار محمد خان کړ وسی او د روشندل خان کودی دی . روشندل خان داحمدشاه بابا په دربار کې د دفتر مشر وو، او له دې لامله د(( عرض بیګي ))په نامه یادیده . دبڅرکي صاحب کورنۍ داڅکزیو یوه روښانده او مترقي کورنۍ وه ، چې تل یې د خپلو خلکو په روزنیزواوښوونیزو چارو کې کارنده ونډه درلودلې، دوی د مخکښو او میړنیو شخصیتونو په توګه په علمي، ټولنیز، سیاسي، ملي ، ادبي چارو او بیا سوداګریوو برخو کې ډیر اغیزمن نقش او رول لوبولی دی . دبڅرکي صاحب مور (بي بي امینه) نومیده او دعبدالواحدخان پوپلزي لور وه . عبدالواحدخان په ارغستان کې اوسیده او پر خپل وخت د پوهې او نوم و نښان څښتن وو، چې له امیر عبدالرحمان خان سره د اړیپچ او اختلاف پر بنسټ د کوټې ښار ته شړونې (تبعید) شوې وو . د تکړه لیکوال او شاعر ننګیالي بڅرکي لاسوندونو (اسنادو) له مخې بڅرکی صاحب پر (۱۹۲۳) ز. کال په یونیم کلنۍ کې خپله مور له لاسه ورکړه . او پالنه او روزنه یې د انا او نیکه له خوا کیده. خو له بده مرغه پر (۱۹۳۶) ز . کال یې انا د کوټې په ستره زلزله کې وفات شوه. بیا بڅرکی صاحب د خپل پلار او مشر ورور محمدافضل خان په سپارښت له کوټې څخه ګلستان ته ولاړ او هلته د ده په ژوندکې یو نوی بدلون راغی. د ده مشر ورور، چې یوروښاندی، ملي، ټولنیز او سیاسي مخکښ بلل کیده ، دخپلې روزنې او پالنې تر اغیز لاندې راوست او دا لاره یې ور برابره کړه ، چې د ګلستان په ښوونځي کې خپلې زده کړې پر مخ یوسي . د دوی دکورنۍ یو شمیر غړي لکه عبدالصمدخان او محمدایوب خان اڅکزی نامور سیاسي او ملي شخصیتونه تیر شوي دي او د کانګرس د ګوند غړي ول . دوی دخپلو ملي او سیاسي موخو د دودونې او څرګنداوې لپاره سیاسي غونډې او بنډارونه جوړول او دخلکو په راویښولو کې یې ستر اغیز لاره . نو بڅرکي صاحب یې هم تر اغیز لاندې له تنکۍ ځوانۍ راهیسې سیاسي لاره راخپله کړې وه . دا چې تر لومړني ښوونځي راوروسته ورته په ګلستان کې دنورو زده کړو د پر مخبیونې شرایط سم نه ول، نو دخپل پلار په غوښتنه کندهار ته ولاړ او د شالماړپه لیسه کې یې دزده کړې کابو تر لاسه کړه . دی د یو غوره او بریالي زده کوونکي په توګه پر (۱۳۱۷) لمریز . کال حربي ښوونځي ته واستول شو، او هلته یې د خپل استعداد په درلودلو سره د پیلوټې په څانګه کې دایټالیا بورس ته و نومول شو، خو له به مرغه د ده پر ځای بل څوک و استول شو . دی پر (۱۳۱۸) ل . کال طب پوهنځي ته ور وپیژندل شو او هلته یې څلور کاله خپلې زده کړې پر مخ بوتلې . څنګه ، چې دی په سیاسي او ټولنیز ډګر کې د آزاد اند او واند څښتن وو،نو ورته خورا ګران وه، چې له عسکري شرایطوسره ځان عیار کاندي ، دی هیڅکله د انساني او ټولنیزې نیمګړتیاووپر وړاندې بې توپیره پاتیدای نه شو او د انتقاد ګوته یې ورته نیوله، په دې توګه د پوځي زور واکانو نه خوښیده او دې ته اړ یست ، چې په هغه چوکاټ کې خپلې زده کړې نیمګړې پریږي . په پای کې هم د دژوند ستونزو او ناخوالو پسې واخیست او له کابل څخه هند ته ولاړو . له هغه ځایه هم د ډیرو ستونزو او تنګسو له لامله کوټې ته راغی او دغلته یې د خپل مشر ورور محمد افضل خان تر سیوري لاندې څه نا څه یو بې بړغ وړوغه ژوند غوره کړ .

بڅرکی صاحب د خپل ژوند په اوږدو کې تل له ادبي لیکنو څیړنواو پلټنو سره بوخت وو، او له پوهې او ادب سره یې پوره مینه او لیوالتیا درلوده . ده خپله مطالعه لومړي ځل له ناولونو څخه راپیل کړه. د رابرناټ ټاګور ناولونه او آثار یې پیدا کړل او په لوستلو یې خپله علمي او ادبي پوهه لوړه کړه، او همداسې یې د ډاکټر اقبال لاهوري کتابونه هم لوستل . خان عبدالصمدخان اومحمدایوب خان د مولانا ابوالکلام آزاد د آثارو لوستنې ته ډیر هڅاوه . په دې لړ کې یې د نیاز فتحپوري د نګار د رسنیوپه لوستلو، پر ذهني او رواني حالاتو دومره اغیز وښانده چې (( مذهب)) نومی کتاب یې را پښتو کړ.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

دبخرکي صاحب آثار ، ليکنې او ژباړنې د هيواد دننه اوباندې په يو شمير رسنيو او مهالنيو او په بې شميره کچه په طلوع افغان ، دکندهار اوهيلمند په ورځپاڼو او مهالنيو او همدا راز په ګهيځ او دکوټې په مجله ، آمو جريده او د احمدشاه بابادعلمي، ادبي ټولنې خپرنې اورګان ملي هينداره او نورو رسنيو کې خپرې شوې دي . ، ده دخپل ولس په راويښولو، پرمختګ او ترقۍ په لاره کې د خپل علم او پوهې په رڼا کې نه ستړي کيدونکي هلې ځلې کړي دي

: د ده چاپ شوي او ناچاپ آثار دا دي

.ـ دښځو تاريخ ته يوه کتنه : خپروونکې داحمدشاه باباعلمي او ادبي ټولنه . پر دې اثر باندې سريزه زمری محقق او پايله ننګيالي بخرکي ليکلې ده

. دحاجي محمد انور خان اڅکزي خاطرات : خپروونکې داحمدشاه باباعلمي او ادبي ټولنه . پر دې اثر باندې سريزه استاد حبيب الله رفيع کښلې ده

.ـ معاصره فلسفه (ژباړه) : خپروونکې داحمدشاه باباعلمي او ادبي ټولنه . پر دې اثر باندې سريزه دوکتور عبدالرشيد جليلي ليکلې ده

.ـ مذهب (ژباړه) : خپروونکې داحمدشاه باباعلمي او ادبي ټولنه

.ـ روسي يرغل پر افغانستان : پر دې اثر باندې جعفر خان اڅکزي سريزه کښلې ده

.ـ افغانستان مې حکمراني پارټۍ : په اردو ژبه

.ـ ويښ زلميان د افغانستان يو سياسي تحريک : خپروونکې افغاني کلتوري ټولنه په هالند کې . په دې اثر باندې سريزه ډاکټر طارق رشاد ليکلې ده

ـ تاج د رابرناټ ټيکور اثر (ژباړه) : خپروونکې کابل پوهنتون .پر دې اثر باندې سريزه عبدالشکور رشاد او پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار يادونه ليکلې ده . ـ

: د سوچه پښتو دوزره (۲۰۰۰)لغاته

ـ سانټفک ژوند : ـ پريبلولوژيکي

The Paul R. Ehrlich, the cold and dark sagan (مسايلو باندې دايمي قواؤ ...(ژباړه

ـ نړيواله ويره

پښتو متلونه ولسي ټوکې -

داشعارو ټولګه

پنداو عبرت : دعربي فيلسوفانو د افکارو ټولونه ياداښتونه :

د ببيلوګرافۍ په توګه په څو ټوکو کې يادانبتونه : د کرونولوژۍ په توګه په څو ټوکو کې افغانستان : په انګليسي ژبه دانقلاب تشريح : د دې اثر په اړه بخرکي صاحب داسې ليکي . (( دا د ښاغلي ګرين برن ټن کتاب دی، چې دجهان څلور لوی انقلابونه لکه : دفرانسې انقلاب، د انګليستان صنعتي انقلاب، د امريکاانقلاب، د روسې سوسياليستي انقلاب يې په يوه علمي توګه په کښې څيړلی . ( دغه موضوع و ماته په زړه پورې ګرځنده سوه، نومې وغوښتل چې د پښتو کالي په واغوندم او ويې ژباړم .نوموړی کتاب د پروفيسور ګرين ټن يو په زړه پورې شهکار دی، چې ده په انګريزي ليکلی او په نيويارک کې خپور کړی دی . نوموړی کتاب د تاريخ (. لوستونکو ته يوه بې سارې ډالۍ ګڼلای سم . په تيره بيا د هغه افغانانوخويندو او وروڼو لپاره، چې په انقلابونو کې يوازې سوسياليستي انقلابونه پيژني (( . په درناوی محمدعلم بخرکی

The cold and the dark the world Nuclear war (ـ سوړ جنګ (ژباړه

ـ پښتو انګليسي قاموس : ـ ماربيچړيان : په کوټه

. کې خپور شوی دی

: ـ انګليسي پښتو قاموس نابشپړ

.ـ روس کا يرغل : په اردو ژبه په کوټه کې خپور شوی دی . په دې اثر سريزه جعفر خان اڅکزي ليکلې ده

... اوداسې يو شمير نور کتابونه

: څېرمه چارې او دندې

کله، چې پر (۱۹۵۲) ز . کال کې د مارچ پر يوديرشمه دکندهار د ويښ ځلميانومديره هيئت بنديان شول، بخرکی صاحب هم د ويښ ځلميانو د فعال غړي په توګه پر (۱۹۵۲) ز . کال د اپريل پر (۱۵ مه) له خپلوملګرو انګار صاحب او حاجي محمد حسين خان سره يو ځای د کندهار په عسکري فرقه کې بندي شو . تر آزاديدو وروسته د امريکايانو په موريسن- کنودسن کمپنۍ کې کار وکړ. بيا په قادري بس کې د محاسب په توګه دنده پر مخ بوتله . وروسته په ارکوزيا پرزه فروشي کې له . صوفي ولي محمد خان سره دمحاسب په توګه پر کار بوخت شو

ـ همدارنګه يې دکندهار داطلاعاتواو کلتور په رياست کې د مطبعې دمدير په توګه ، په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې دپښتوپر مختيا د مدير په توګه، خپلې دندې تر سره کړي دي . بخرکی صاحب په پای کې له علامه عبدالحی حبيبي صاحب سره يو ځای په يوه لزومي مکتوب تقاعد ته سوق شو . وروسته د عبدالهادي خان بهر سره ، چې هغه هم د ويښ ځلميانو يو پخوانی غړی وو د غاليو په تجارت پيل وکړ او پر شخصي کارونو بوخت شو. وروسته ، چې د روسانو نظامي



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

حملې پر افغانستان پیل شوې، پلرنې ټاټوبې گلستان ته ولاړ او هلته یې دځان لپاره په خپلو متو یوکور جوړ کړ، په گلستان کې له پښتو ادبي بهیر سره یو ځای شو. کهیځ ادبي مجله هم د بځرکي صاحب تر لاربښونې لاندې خپریده. اوتر هغه راوروسته د خپل مشر زوي (زمری محقق) په هلو ځلو د دنمارک په هیواد کې میشت شو او هلته یې آمو جریده را منځته کړه، د یادونې وړ گڼم د بځرکي صاحب ډیره مهمه مقاله په دنمارک کې خپره شوه، چې د دنمارکي پروفیسرانوپام یې ځانته ورواړاوه، هغه لیکنه (ډنمارکي ژبه د پښتو ترله ده) نومیده . پر نوموړې لیکنه باندې په هغه هیواد کې یو علمي سیمنار هم جوړ شو، وروسته بځرکی صاحب هالند ته ولاړ او . دخپل زوی ننگیالي بځرکي په کور کې د خپل ژوند وروستی شپې ورځې پای ته ورسولې

ځنګه ، چې بځرکی صاحب د چپ او انقلابي افکارو تر اغیز لاندې وه، د انجمن وطن گوند غړیتوب یې تر لاسه کړ. د هغه گوند موخه او مرام د خلکو خپلواکي او آزادي او انگریزي ضد سیاست وو، انگریزانو هم خپل گوندونه جوړ کړي وو، چې یوه بیلکه یې د مسلم لیگ گوند وو، په هغه وخت کې د انجمن وطن گونداو کانگرس گوندمرام دا وو، چې باید انگریزان بې له قیدو شرطه هندپریږدي او هندوستان د اسلام په نوم تجزیه نه کړي ، بلوڅواو پښتنو ته باید خپل حق او آزادي ورکړ شي، خوپه دغه مبارزه کې د مسلم لیگ او انگریزانو زور او قدرت زیات وو . نو د انجمن وطن گوند او کانگرس د سختې ماتې سره مخامخ شول . لنډه دا، چې په پای کې مسلم لیگ او انگریزانو هندوستان تجزیه کړاو د مسلمانانو د احساساتو څخه یې گټه پورته کړه او د پاکستان هیواد یې د خپل لاسپوڅي محمد علي جناح په مشرۍ رامنځته کړ، چې له همدغې وخت نه په سیمه کې د غمیزو او ستونزو پړاو پیل کیږي . په دغه وخت کې بځرکی صاحب د انگریزانوله خوا تر څارنې لاندې ټیکاو وموند . او له گلستان څخه کندهار ته راغی، او دغلته یې خپله نیاومنه مبارزې پر مخه یوړه

پر (۱۳۲۵)ل . کال کې د ویښ ځلمیانو سیاسي غورځنگ جوړ شو، چې په دې غورځنگ کې ادبي او فرهنگي شخصیتونو زیاتره نقش او اغیز لوبولی دی . دغې غورځنگ په خپل وخت کې د پرمختگ، ترقی، دموکراسی، برابری او د ملي گټو د ساتنې بیرغ اوچت ساتلی وو. پر دې تحریک د پښتو ژبې د ادیبانو او پوهانونقش او اغیز د یادونې وړ دی، همدا لامل وو ، چې د دغې غورځنگ وده او پرمختگ په هغه و لایتونو کې، چې زیاتره پښتانه اوسیدل ډیر وه. په کابل کې عبدالروف بینوا گل پاچا الفت، قیام الدین خادم، ارسلان سلیمي، نور محمد ترکی، فیض محمد انگار، غلام حسن خان صافي، صدیق الله رښتین، حاجي محمدانور خان اڅکزی د دې غورځنگ له بنسټوالو څخه شمیرل کیدل . او همداسې په کابل، کندهار ، ننگرهار او یو شمیر نورو ولایتونو کې د دغې غورځنگ د مشر تابه پلاوي فعال غړي او پلویان دا کسان وو: محمدرسول پښتون، مولوي محمد بهرام خان، علامه عبدالحی حبیبي، عبدالهادي توخي، قاضي عبدالصمد خان، محمد ابراهیم خواخوږی، علامه عبدالشکور رشاد، غلام حسین خان ساپي، غلام جیلاني خان الکوزی، محمدعلم بځرکی، حاجي خدایداد خان، حضرت محمد یوسف آغا، محمد دین ژواک، آغا محمد خان کرزی، محمدحسین خان ریدي، صوفي ولي محمد خان ، پوهاند نوراحمد شاکر، شیر احمد خان، حاجي لعل محمد خان، محمد علي خان، فتح محمد خان خټگر، نور محمد خان قاضي خیل، غلام محمد خان پوپل، حاجي محمد آصف خان، ناصر خان لعل پوري، محمد طاهر خان صافي، محمد موسی خان شفیق، نیک محمد خان پکتاني، عبدالعزیز خان، عبدالخالق خان واسعي، محمد رسول خان مسلم، عبدالرزاق خان فراهي، محمد نور خان علم، مولوي عبیدالله خان صافي، گل شاه خان صافي، ظهورالله خان همدرد، محمد شریف خان قاضي، عبدالمنان خان دردمن، ملیا آغا، عبدالصمد ویسا، او داسې یو شمیر نور ...

د دغې غورځنگ لومړی منشي ښاغلی عبدالروف بینوا او آخري یې عبدلرزاق خان فراهي وو. د دې غورځنگ ن خپرونې دا وې : د انگار اخبار، د ولس اخبار، د ویښ ځلمیانو کتاب او داسې یو شمیر نور ...

په رښتیاسره د ویښ ځلمیان په غورځنگ کې عالمان، سیاسي، ملي ، علمي، ټولنیز، ادبي او فرهنگي شخصیتونه سره راټول شوي وو، چې په ټول هیواد کې یې د خلکوپه راویښولو، پوهولو او لاربښونو کې ډیر لوی نقش او اغیز لوبولی دی . او همدارنگه یې د وخت د دولت فکر سیاسي ، ملي، ټولنیز، ادبي او فرهنگي موخوته ور ځیر کړی وو. بځرک صاحب د ویښ ځلمیانو د غورځنگ یو مخکښ او فعال غړې وو . ده دخپل غورځنگ د ملي، سیاسي علمي موخو ارمانونو په لاره کې په خپل تو ان سره د خلکو په منځ کې د قدر اوستاینې وړ خدمتونه تر سره کړي دي . د ویښ ځلمیان سیاسي غورځنگ د هیواد په ټولو سیمو کې خپل سیاسي فعالیتونو ته دوام ورکړاو دخلکو په راویښولو کې یې خپل اخبار او خپرونې جاري ساتلی وې . لنډه دا چې دغې سیاسي گوند ځلور کاله خپل سیاسي فعالیت پر مخ یووړ ، چې مرام او موخه یې اصلاحات وو. خو له بده مرغه تر ځلورو کالو وروسته د دغه غورځنگ خپرونې وترل شوې اویو شمیر رهبري غړي یې په پر له پسې توگه بندیان شول . بځرکی صاحب او د ده پلار هم، چې د دې غورځنگ فعال غړي ول د ځلور کلو په بند محکوم شول . بځرکی صاحب د دغې غورځنگ د ستونزو په اړه په خپله یوه : لیکنه کې داسې کښلي دي

دا، چې ولې د گوند غړي بندیان سوه وجه یې ښکاره ده، یو خو ویښ ځلمیانو سیاسي تجربه نه درلودله او په همدغه نوي غورځنگ کې په سیاسي لحاظ دومره ... )) افراط وو، چې د وخت دولت یې ښه سم دم وار خطا کړ څو پر گوند یې فشار او ضربې واریدې کړې د بل پلوه حکومت هم د سیاسي تحریک سره نابلد وو، تجربه یې نه درلوده نو ډیر ژر وارخطا سو او په زور یې گوتې پورې کړې، گوند او دهغه غړي یې په بې رحمې سره زندانونو کې بندیان کړه، سخت فشارونه یې پر راوستل او له ((.... دولتي پوستونو څخه یې ایسته کړل

کله ، چې بځرکی صاحب بندي شو، دی په بندي خانه کې هم له ډیرو ستونزو او تکلیفونو سره مخامخ شوی وو، په دې وخت کې د ده کورنۍ بې سرپرسته کیږي او ډیر سخت او ستونزمن ژوند تیروي، خو د ده میرمن، چې یوه پیاوړې ښځه وه په ډیره میړانه دخپل اولادونوسر پرستي کوي ، او د دوی خوراک او پوښاک برابر وي . بځرکی



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

صاحب هغه تولنيز شخصيت وه، چې تل يې له خپلو يارانو سره ډيرې ښې اړيکې لرلې، او په دا وخت کې، چې دی بندي وو، د ده د لارې او غورځنگ ملگرو علامه عبدالشکور رشاد او محمد ابراهیم خواخوږي او يو شمير نورو په منظمه توگه د ده احوال نيوه او د ده دکورنۍسره يې مرستې کولې . بځرکی صاحب وروسته له څلورو کالو له زندان څخه آزادیږي .سره له دې، چې د ده صحي حالات ښه نه وو او ډير نارغ وو او دخپل کورنۍ د اقتصادي حالاتو د برابرولو په اړه ډير پريشان وو، خو بې له دې، چې استراحت وکړي د خپل ژوند د چارو په سمبالولو يې ځان بوخت کړ . او په ځنگ کې يې د هغې يارانو او دوستانو، چې په بنديخانه کې پاتې وو، په منظمه توگه احوال نيوه او له دوی سره يې مرستې کولې، چې دا کار د ده د لوړو اخلاقو او ميړانو، انساني عواطفو او احساساتو ښکارندوی وو . بځرکی صاحب دسياسي حالاتو او د دولت په اهدافو او مقاصدو ډير ښه پوهيده او په راتلونکي ژوند کې يې د يو مترقي دولت په جوړولو کې خطرونه احساسول، نو همدا وجه وه، چې ده دخپل کورنۍ او هيوادوالو د ژوند په اړه ډير فکر کاوه ، په همدې خاطر يې خپله ميرمن دې ته وهڅوله ، چې بايد زده کړې تر سره کړي او په ټولنه کې لکه د نورو ښځو په شان په ټولنيزو چارو کې فعاله ونډه ونيسي، وروسته له ډيرو ستونزو د ده ميرمن خپلې زده کړې پای ته ورسولې او د ښوونکې په توگه وگمارل شوه، چې په دې اړه بځرکی صاحب داسې وايي :

څه وخت چې د ښځو نهضت راپيل شو ما هم د دې وخت څخه گټه تر لاسه کړه او په کندهار کې د لومړيو ښځو په کنار کې زما ميرمن هم لڅ مخې را ووتله او په ...))

(( ....ټولنيزو چارو کې يې خدمت د يوې با سيوادې ښځې په توگه راپيل کړ

دبځرکي صاحب درنه ميرمن (ساجده)نوميده په يوه مذهبي کورنۍ کې لويه شوې وه، په مروجو علومو پوره پوهيده او د قرآن شريف حافظه وه، په ديني علومو کې يوه ممتازه ښځه وه، په دري – فارسي ژبو هم پوهيده . سره له دې، چې زموږ په سنتي ټولنه کې يو شمير ستونزې موجودې وې اودې، خو بځرکي صاحب او د ده کورنۍ د يو روښان ليد خاوندان وو، همدا وجه وه، چې ده خپله ميرمن د ښوونې او روزنې ډگر ته راوپسته او خپل توکم او ملگرو ته يې د علمي او منطقي دلايلو پر استناد قناعت ورکړ او ددوی ښځې هم دغې ډگر ته راووتلې او د ښوونې او روزنې په برخه کې يې خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړ. بځرکی صاحب د پوهې، علم او لوړو اخلاقو څښتن شخصيت وه، ده د خپلو خلکو دگټو، سولې،سوکالې او نيکمرغې لپاره بې ډاره او په ميړانه مبارزه کړې ده، او پر (۱۹۶۵) ز . کال کې يې ولسي جرگې ته ځان کانديد کړ، خو د وخت دواکمنانو په مداخله بريالی نه شو. کله، چې د وخت دولتونو د دموکراسۍ، د بيان د آزادۍ، دمطبوعاتو او د گوندي قوانينو، ژغ پورته کړ، يو شمير گوندونه جوړ شول، له هغې ډلې څخه يو هم د مساوات گوند وه ، چې د محمدهاشم ميوندوال په لارښوونه يې خپل فعاليت پيل کړ .، دی په خپل وخت کې، صدراعظم هم وه . نوموړي علاقه لرله، چې د يوې بشپړې دموکراسۍ پر بنسټ يوحکومت جوړ کړي، نو له دې لپاره يو ټولنيز او سياسي بنسټ ته ضرورت احساسيده، هغه وو ، چې ده د يو شمير ملي، سياسي، ټولنيز، علمي ، ادبي او فرهنگي شخصيتونو سره مشوره وکړه او خپل گوند يې جوړ کړ . پر (۱۳۴۹)ل . کال د سنبلې په مياشت د بځرکي صاحب په کور کې د مساوات د گوند (کنگره) جوړه شوه . په دغه کنگره کې د هيواد نامتوپوهاندو ملي او سياسي مبارزينو، علمي، ټولنيز، ادبي اوفرهنگي شخصيتونو لکه : محمدهاشم ميوندوال، محمد هاشم ترکی، علامه عبدالشکور رشاد، علامه عبدالحی حبيبي، محمدابراهيم خواخوږی، عبدالاحد عارض، ابراهيم عطايي، غلام جيلاني الکوزی، فيض محمدانگار، عبدالصمدويسا، محمدعلم بځرکي او داسې ځينو نورو سياسي او پيژندل شويو کسانو په کښې برخه اخيستی وه . په دې کنگره کې په دموکراتيکه فضا کې انتخابات وشول، محمدهاشم ميوندوال د رايو په اتفاق دعمومي منشي او محمد علم بځرکی يې دمرستيال او منشي په توگه وټاکل شول ، او دگوند نوم د مترقي دموکرات (مساوات) گوند په نوم خلکو ته ورو‌پيژندل شو، او خپل مرام يې د مساوات دجريدې ( اخبار )په وسيله خپور کړ. محمد هاشم ميوند وال په خپل وخت کې يوپوه عالم، اودروښانه ليدشخصيت وه، او په هيواد کې د بشپړې دموکراسی غوښتونکی وه . دی په ملي او بين المللي کچه دنامتو او پياوړي سياستوال د پوره نوم او نښان څښتن وو. د ده ټولنيز او سياسي شخصيت دخلکو او ټولنې په منځ کې خپل ځای ځايکی درلود،او ورباندې گران وو. دهيوادوالو په منځ کې محبوب شوی وه، همدا وجه وه، چې د وخت دولت دی د صدارت له چوکی څخه ليرې کړ . په دې وخت کې يو شمير گوند غړو له گونده ووتل او ترينه ولاړل، خو بځرکی صاحب د پخوا په څير ديو ښه ملگري په توگه له ميوندوال سره خپلې ملي او دموکراتيکې مبارزې ته دوام ورکړ .

پوهاندوکتورمجاور احمد زيار، چې زموږ دهيوادیو نوميالی ژبپوهاند، ادبپوهاند، علمي او اکاديميک شخصيت دی، په خپله يو ليکنه کې د بځرکي صاحب د ملي، سياسي او ادبي شخصيت په اړه داسې وايي :

دا به پر ځای پرېږدو چې اروابناد محمد علم بځرکی د اڅکزي ټبر له يوې يادې ښادې تاريخي کورنۍ سره تړاو لري چې لر تر لره تر سترملي اتل عبداله خان ...)) اڅکزي پورې شپږ اووه پښته رانغاړي . سم له لاسه خبره له همدغه ((بځرکي)) راپيلوو چې د خپل مهال تورتمو او سرو سمخو گوټونو ته يې څنگه او څومره رڼايي او تودوخي وربخښلې ده . له اروابناد بځرکي صاحب سره مې تر يو دوو پلاوو زيات ليده کاته نه وه شوي، خو د ښوونځي او بيا پوهنځي راهيسې يې د ليکنو او ژباړنو يو لېوال اومينه وال پاتې شوی يم او دومره ه مې پيژاند چې دی زموږ د هېواد له هغو ځلاندو او روښاندو سياسي او بياپرمختلليو، او بل اندو (ديگر انديشو) سياسي- فرهنگي څېرو څخه گڼل کېده چې يې له تنکی ځوانی د ژوند تر وروستی سلگی دخپل هېواد او هېوادوالو دپرمختگ او پتمن ژوند وژواک لپاره هلې ځلې کړې او په دغه لارکې يې خورا ډېرې سختې سپورې گاللې دي .



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

د هند د نیمې وچې د پښتنو د ازادیپال((انجمن وطن))گونده رانیولې تر ((ویښ ځلمیانو)) او بیا ((مساوات)) گوندد غړیتوب له لارې یې په ډله ییزه مبارزه کې هم، د نورو ډېرو پر خلاف په هماغه سپېڅلې ملي- انساني موخه او ارمان کارنده ونډه اخېستې، بې له دې چې د څوکۍ او پوړۍ تمه او اسره ولري . په تېره په مساوات کې . چې میوند وال صاحب یې د خپل صدارت پر وخت بنسټ اېښی وو او تر وزارتونو پورې یې نوروته ډېر څه ورکړل

په وروستیو کې یې د ډنمارکۍ او پښتو ترمنځ د نژدې خپلوۍ په تړاو له هاندو هڅو خبر شوم، که څه هم دا د ژېبوهنې او بیا د ساینتېفیکې تاریخي- پرتلیزې او ورسره ورسره فونو- اېتېمولوجیکي ځانگې سکالو(موضوع) وه، خو دهغه اروابناد دفرهنگي مندو ترړو ښکارندویي یې کوله او په تېره داچې د د واړو هېوادو او . وگړوو تر منځ یې د دوستانه اړیکو او پوهاوي لپاره یوه په زړه پورې چاره پرځای کړه

.دگران انجنیر صاحب مسعود مننندوی یم چې د هغه اروابناد په اړه یې ښایسته ډېر څه نوي وراندې کړل او ماته یې هم دغه لنډ یادښت ویاړ را په برخه کړ

((!د هغه ستر انسان یاد دې تلژوندی او تلپاتې وي

پوهاند دوکتور م .ا. زیار

(اکسفورډ (۱/۱۲/۲۰۱۱

پر (۱۳۵۲) ل . کال د سرطان پر (۲۶) نیټه شاهي رژیم له منځه ولاړ او د سردار محمد داود خان په مشرۍ د جمهوریت اعلان شو . داود خان خپل ملي او مترقي پرو گرام د رادیو له لارې خپور کړ، چې په رښتیا سره یو مترقي پروکرام وه . بځرکي صاحب هم لکه نورو ملي شخصیتونو او گوندونوپه توگه دخپل گوند په استازۍ خپل : لیک سردار محمد داود ته واستاوه . د دې لیک متن دا دی

)) !بحضوری عالیقدر رهبر انقلاب ما

بعد ازآداب مخلصانه ؛

.محمد علم بځرکی ولدحاجی محمد انورخان اچکزی بحضورشما چنین عرض دارد

محترما ؛ از اوانیکه رژیم شرافتمند وبا وقار جمهوریت توسط قربانی بی مثال شما ورفقای تان نصیب این کشورگردیده سپاس گزاری آن تا ابد بدوش ما خوا هد بود . ولی نا گفته نباید ماند که غرس این نهال جمهوری بر سر زمینی شده است ، که صد ها سال در آن تخم قبیله پرستي ، نفاق وغیره پا شیده شده ، بوی نفاق ، بعلمی وحتی اجنبی پرستی از آن می اید – اعتراف با ید نمود که نمو این نهال نورس درین سر زمین مشکلاتی بسی دارد ، با ید جمهوری ما یک جمهوریت وا قعی ، ملی و . دیموکرا تیک با شد.که درآن نما ینده گی رو شنفکران وطن نمایان با شد

با احترم : محمد علم بځرکی

(ل ۱۳۲۵) ((....

:اویا دا لیکنه گورو

ښاغلی رئس صاحب دولت، ))

! صحت او بریا لیتوب دې غواړم

عرض پا نه : دهغه بې ساري فداکارۍ په وجه چې تاسو اوستاسوملگرومسلط شاهي رژیم زموږ داوړو څه ایسته کی . زه څه؟ ټول ملت دهغه مننه کوي . دا چې جمهوري رژیم به کله خپله هغه اصلي بڼه موږ ته را وښوي . اوموږ به دخپلو ارزو گانو مستحق کیږو – البته ده دغه اوس وخت تقا ضا با ید نه وي ، خو دتیریدونکی ( . عبوري) او په منځ کې دوره ، چې دشا هې او ائینده جمهوري نظام په منځ کې ده – پر ځینو کسانو په ځانگړې توگه پر ما باندې ډیره گرانه تما مه ده

تا سو ته بهتره معلومه ده چې محترم میوندوال زموږ دمترقي ډیموکراټ (مساوات)گوند مشر او عضوه ده . خو کوم وخت چې میوندوال صاحب ونیول سوو- تر هغه ډیر پخوا زموږ جمیعت د مترقي ډیموکراټ (مساوات ) دیوې اعلامیې په ترځ کي دافغانستان جمهوری نوی رژیم او ستاسو او ستاسو دملگرو فداکارۍ یې تائید کړې ده . او خپله همکاري یې در سره اعلان کړې وه – او هغه پلټنې چې دداخلې وزارت دگوند په ار شیف کې وکړې داسې څه یې تر لاسه نه کړه ، چې گوند دې دنوي جمهوریت . په خلاف کوم څه تر سره کړي وي

. او موږ خپل تصویب په شفاف ډول تاسو ته درلیږلی دی

((په در ناوې ،

محمد علم بځر کی

(۱۶/۹/۱۳۵۲ل)

بځرکي صاحب په دې لیک کې د خپل گوندپه استازیتوب خپل ملاتړ د داود خان د رژیم نه ، په رسمي توگه، ده ته ورولیږو، چې څو موده وروسته د اطمینان ځواب یې هم تر لاسه کړ. دا هغه وخت دی، چې میوندوال صاحب په یو نړیوال سفر بوخت وه، خو له بځرکي صاحب سره یې منظم اړیکي لرل . کله ، چې دی د داود خان له رژیم څخه خبر شو نو سم له لاسه یې د عراق نه له بځرکي صاحب سره تماس ونیوه او خپلې مشورې یې ورکړې .وروسته له سفره میوندوال صاحب خپل وطن ته راغی او په



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

وطن کې یې د داود خان رژیم ټینګ ملاتړ اعلان کړ، او کوشش یې کاوه، چې د داود خان د ملي او مترقي سیاست ښه پلوی وي . خو دیو شمیر عواملو پر بنسټ وروسته له یو څو وخته، دی او د ده یو شمیر د ګوندغړي یې د کودتاچیانو په نوم بندي کړل ، یو له دغوکسانو څخه بخړکی صاحب هم وو . د وخت دولت ډیر کوشش وکړ چې پر دوی اسناد را ټول کړي، خو هیڅ څه شي پیدا نه کړل، او وروسته له ډیرو پوښتنو یې بخړکی صاحب آزاد کړ، خو بخړکی صاحب دیو وفاداره ملګري په توګه دخپلو ملګرو او دمیوندوال څخه یې په میړانه دفاع وکړه . دوخت دولت بخړکی صاحب په پرله پسې توګه د تحقیق لپاره راغوښتو . بخړکی صاحب له دغو تحقیقاتو نه ستړی شو او خپل ګران دوست محمد ایوب خان سره یې اړیکې ونیوې او دا ټول داستان یې ده ته تشریح کړ. محمد ایوب خان د سردارمحمد داودخان سره ولیدل او د ده په اړه یې پوره معلومات ورکړ، کله، چې داود خان وپوهیده، چې بخړکی صاحب دحاجي محمد انور خان زوی دی او یو ملي او ټولنیز شخصیت دی نو سم دلاسه یې هغوو مراجع وو ته ، چې دی یې تحقیق ته راغوښتو دستور ورکړ ، چې نور دی په عذاب نه کړي .

همداسې کله ، چې د نورمحمد تره کي رژیم راغی، بخړکي صاحب د ده رژیم سره خپل ملاتړ اعلان کړاو خپل ملي او ټولنیز موخې او دخلکو ستونزی یې د خپل استازي په لاس مشر تابه ته ور ور سولې ، خو چا ورته پاملرنه ونه کړه، بیا یې یو لیک وکیښ او نورمحمدتره کي ته یې سیده ورولیږه، په دې متن :

دافغانستان دېیمو کرا ټیک جمهوري انقلابي شورا ریس نور محمدترکی، ))

د غویي داوومي انقلاب چې یو ملي ډیمو کرا ټیک انقلاب دی – دهیواد ټول متر قي عنا صر په ویا ړي .او هیله څیني لري؛ چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کي به دامپریا لیزم او فیوډالیزم کمبله په هر اړ خیزه توګه ورټوله کي .

زه دافغانستان د مترقي سنګر د یوه فرد په تو ګه چې بې شمیره کړاوونه مې په دې لاره کې ګاللي دي .تا سو او ستاسو ملګرو ته مبار کي وایم .

او هیله مې داده چې نوی افغانستان دسولې – پرمختګ – ملی پیوستون دلاري مل سي .

( (په درناوي

محمد علم بخړ کی

(ل ۲۳/۲/۱۳۵۷)

دطالبانو په واکمنې کې ، بخړکي صاحب ډیرې هلې ځلې وکړې ، چې په هیواد کې د ټولو افغانانو سیاسي شتوالې، ملي هویت اوملي یوالې غښتلی او تضمین شي او زموږهیوادوالوته سوله اوسوکالي ور په برخه شي . ده له یوشمیرمهموااویا صلاحیتو رهبرانو سره، چې د طالبانو په رژیم کې یې ډیر لوی نقش درلود دهیواد پر مختلفو سیاسي ، ملي ، ټولنیز، علمي، ادبي او کلتوري برخو کې خبرې اترې وکړې . اوخپل وړاندیزونه یې، چې د نیوکو څخه ډک اړخونه یې هم لرل په ډیره میړانه دوی ته وړاندې کړل، تر هغه ځایه چې د بخړکي صاحب ملي ، ټولنیز، دروندا‌و سپیڅلې شخصیت دغو رهبرانو ته معلوم وه، دوی د بخړکي صاحب خبرې او وړاندیزونه په ډیره سره سینه او ورین تندي واوریدل، او ده ته یې اطمینان ورکړ، چې دشرایطو سره سم هڅه کوو د تاسو ټول انساني، ملي ، اخلاقي او ټولنیز وړاندیزونه په پام کې ونیسو. لنډه دا، چې بخړکي صاحب دخپل ژوند تر آخري سلګې پورې د هیواد او هیوادوالو دملي ، سیاسي او ټولنیزو ګټو په اړه خپل ږغ په ډیره میړانه جګ کړې دی، او خپل عقاید او نظریات یې په عالمانه او صادقانه توګه په ډیر پوخ استدلال او منطق سره خلکو ته، مقاماتو ته، رهبرانو ته رسولې دی .او په دې لاره کې یې بې ډاره مبارزه کړې ده .

بخړکي صاحب په خپل وخت کې ډیرې زیاتې لیکنې کړې دي . ده د نثر په برخه کې زیات کار کړی دی، خوتر څنګ یې شعر هم لیکلی دی .دی دشعرونومکمل دیوان لري، چې تر اوسه نه دی چاپ شوی . دی پر (۱۳۲۵) ل . کال کې، چې لا ځوان وه خپل د زړه احساسات اوعواطف یې دشعر په ژبه بیان کړي دي . د ده لومړی شعردا وو:

ساقي راسه ته وماته، دا جام یوسه وخپل خدای ته
امانت یې بیرته ورکه، ورنه وایه! اسلام نه سته
هغه جام کې چې اسلام وو، تا ورکړی او وه چاته
تش ګیلاس یې دی پرې ایښی، دا دما څه واخله بیرته

او دشعر نورې بیلګې یې دا دي :

ښځه

دجهان په ټول کړو کي چې افضل دی
دادښځې احترام دی چې اکمل دی
دانسان بقاپه مورده چې رشتیاسي
دادخورپه مینه وروږګوره اتل سي



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

چي نغرى باندي جوړېږي داخوداده
دا ددې په مینه ټول بهيراجمل دى
دغیرت اودعزت محــک په دې دى
هرپښتون دپاکي ميني ئې محصل دى
دادميني خـــــزانه پرمينه ښه ده
چي په مينه دميرمني ،کورعسل دى
په نړۍ کي غيرتمنده قوم هغه دى
چي پيغورورته دښځي لوى اجل دى
په عزت او عقيدت که ورته ګورې
احترام وپرستش دې ته اټکل دى
ددنيا په نعمتوکي اول داده
په بقا کي دبشرمي دااصل دى
که دټول عالم ښادي سره يوځاى کې
نه بې تول سي ، نې لنګر، نه ئې بدل دى
په عزت که ئې څوک پوه نه دى جاهل دى
جاهل څه؟ چي دى په اصل کي اجهل دى
پيژندنه دانسان په مينه کيږي
دادې مينه ترټولوښه عمل دى
انسانان چي سره اوسي مـــورئې داده
که دمور عزت څوک نه لري ارزل دى
چي دخور په مينه څوک پوهيدى نه سي
انسان نه دى دى په اصـــــــل کي خټل دى
زه بځرکى يم حيران چي څې وبولم
ددنيا و مــــا فيها مي داازل دى
....
اويا:
دعبدالروف بينوا صاحب په ياد
خـــــا طــره د بينوا د ، بينوا
څوکليدل دي ، يادید ل دي بينوا
په خوب کې ورغلى وم زيارت ته
چـــــي ز يا ر ت بې زه کوم دبينوا
پوښتنه مې د ګور وکړه دخلکــو
چيري ښخ دى پرديس سوى بينوا
په افسوس آرمان دې خلکوويله
دلته ښخ دى پرديس سوى بينوا
تصورکې سومه غرق دى سو حا ضر
پـــه خــندا را څـخــه ولاړى بينوا
شناخته نه وه جوړه سوې پر مزار
د يـــــا را نـــو ګيله من ؤ بينوا


pashtoon.net / pashtun.info September 2017

کوم بنیاد چې دځلمو ده ایښۍ
نسته ســـاری په تد بیر د بینوا
چې ځلمو ته ووهادې په خپل کلام
پیغمبر دانــقــلاب و و بیـنـوا
غلی شانته انقلاب ) وو د ویلی)
ټول ملـت اما ده با ش کی بینوا
محفل کې یوه شمع وه روښانه
هســـي شمعه د محفل وه بینوا
په خندا به یې محفل تازه کیدی
را څه ولاړې په ارمان ته بینوا
بځرکي یاران ډیر ولاړه وګور ته
هر یو یار مې لکه یار دی بینوا

بځرکي صاحب دخپل ژوند په وروستیو شیبوکې د هالند مېشتې افغاني کلتوري ټولنې د مشر سلاکار په توګه، داحمدشاه بابا د علمي اوادبي ټولنې ، دملي هینداري دمشر په توګه خپل ادبي او فرهنګي هلوځلو ته پاینه ورکړ. ده ترپایه له بیلابیلو رسنیو سره اړیکي درلودل، او په ټولوعلمي، ادبي او فرهنګي ناستو ، پوهنغونډو او بنډارونو کې کارنده ونډه اخیسته او دهیواد او نړۍ پر بیلابیلومسایلو په پوره علمي او منطقي واک او ځواک ویناوې اورولې . له امریکا ږغ ، بي بي سي او نورو رادیوګانو سره یې هم خپل اندو واند شریکاوه او پر بیلا بیلو سکالوو یې ورسره مرکې تر سره کولې . بځرکی صاحب له دې هر څه سره سره یو دروندخویه، نیک چلندی، زړه سواندی، د ټینګ هوډ خاوند وو .دغه نومیالي د (۲۰۰۳)ز. کال د (۸۳) کلو په عمر دخپل پاک سپېڅلی زړه په دریدوسره په . هالیند کې له نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې

! روح دې یې ښاد وي

د ده له مرګه وروسته د ټولورسنیو، رادیوګانو، تلویزونونو، مجلو، ورځپاڼو، له خوا د ډیرو سترولیکوالو، شاعرانواو ملي شخصیتونو له خوا د خواخوږۍ او خواشینۍ پیغامونه خپاره شول . په جنازه کې یې له درستې اروپا څخه دوستانو او مینه والو برخه واخیسته، او خپل د خواخوږۍ پیغامونه یې واورول، او همدارنګه یې په هیواد کې دننه او بهر د ده د مړینې په اړه ټولو یارانو او دوستانو فاتحې واخیستې . ننګیالی بځرکې، چې یو تکړه لیکوال او شاعر دی ، او د محمد علم بځرکي زوی دی، : خپلې ساندې دشعر په ژبه داسې انځورلې دي

د بابا و یــرنه
دامید ځرک دآرمان
غروب

اوښکه دباڼووه دباڼوپرسرچې ولاړه
پرخه دګلاب وه په سهارکې راڅه ولاړه
نغمه دیوبلبل سوه په ګل بڼ کې راڅه ولاړه
وړانګه دافق وه په په شفق کې راڅه ولاړه

***

باغچه وه دنرګیسو په خزان کې راڅه ولاړه
ډیوه وه په مجلس کې په رڼاکې را څه ولاړه
کشکې په ګرمی دمحبت نه وای پوه سوی
لمبه دګرداب بله په ګرداب کې راڅه ولاړه

***

بځرکی دسکروټوپه انګارکې راڅه ولاړه
توده یې داحجره کړه په آرمان کې را څه ولاړه
اوس به موپرمینه یوبځرکی څوک روښانه کړي



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

ځرک دروښنائي سوه په لمبوکې راځه ولاړه

***

وړمه وه چي پرباغ به يې هميش خيال او نظرؤ

وړمه دپسرلي وه په نغموکې راځه ولاړه

اوښکې مې دننګ پرمخ روڼې ، روڼې رواني دي

ولاړه خاطرسوه په لحظوکې را ځه ولاړله

اوښکه دبانوو دبانوپرسرچي ولاړه

پرخه دګلاب وه په سهارکې راځه ولاړه

: په ډير درنښت او ادبي مينه

انجنير عبدالقادرمسعود

بېنوا : پرليکه پښتو نړۍ ~ Benawa :Online Pashto World

19-12-2011



pashtoon.net / pashtun.info September 2017